


Monthly Logar

میاشتنۍ خپرونه

لوګر

ماهنامه

شنبه د ۱۳۹۹ کال دلیندۍ میاشتې لومړۍ، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د نومبر یویشتمه ۴ پرله پسې ګڼه (۱۱۷) لومړی کال، اومه ګڼه


## ازمیلاد پیامبرگرامی حضرت محمدمصطفی(ص) درلوگر گرامیداشت بعمل آمد

ازمیلاد با سعادت منجی بشریت سرورکاینات حضرت محمد مصطفی(ص) درلوگربه هدف سرمشق زندگی قراردادن سیرت وکردارپیامبراسلام حضرت محمد(ص)، در ریاست اطلاعات وفرهنگ گرامیداشت به عمل آمد.



مولوی محمد شفیع محمدی ازسخنرانان این پروگرام گفت که محبت به نبی اکرم(ص) و اطاعت از او محبت به الله واطاعت ازخداوند متعال(ج) است، وی پیروی از سنت نبوی را یگانه راه حل مشکلات موجود درکشور بیان نمود ونیز ازمردم خواست که فرزندان شانرا با زیورسیرت وسنت نبی اکرم(ص) آراسته نمایند.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر درباره زندگی پربارو خجسته منجی بشریت و کارنامه های آنحضرت(ص) درخصوص نجات بشریت از گمراهی و ظلمت به سوی نیکویی و سعادت صحبت کرد و به پیروی از ارشادات آنحضرت(ص) برای تامین عدالت اجتماعی، تحکیم وحدت ملی برچیدن هرنوع فساد و خشونت، متوقف شدن جنگ و تامین صلح تاکید کرد، وی علاوه نمود که رسانیدن دساتیر اسلامی تنها مسئولیت علما نیست بلکه هرفرد جامعه مسئولیت دارد که رسالت ایمانی ووجدانی شانرا در رسانیدن پیام حق به مردم اداء نمایند.

این پروگرام ازطرف ریاست اطلاعات وفرهنگ دایرگردیده بود، درجریان برنامه با ختم قرآن عظیم الشان بر روح پرفتوح حضرت محمد(ص) اتحاف دعا صورت گرفت.

## په لوګر کې پر بزګرانو د اصلاح شوي غنم د تخمونو د وېش بهیر پیل شو

دلړم۱۴مه: د لوګر پر بزګرانو د ۳۲۲ متریک ټنه اصلاح شوي غنم د تخمونو د وېش بهیر پیل شو. په هغې غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه؛ د لوګر د کرنې او مالدارۍ رییس عبدالله تسل وویل: د اصلاح شوي غنم تخمونه د لوګر له کرنیزو محصولاتو څخه دي او د څه د پاسه ۱۴میلیونو افغانیو په لګښت د نړیوال بانک له بودجې څخه



برابر شوي دي، چې په ۴۰ سلنه تخفیف سره د لوګر بزګرانو وېشل کېږي. د لوګر د والي مرستیالې رابعې ستانکزۍ کرنه د هېواد اقتصادي بنسټ وباله او د کرنې او مالدارۍ له ریاست څخه یې قدرداني وکړه، چې د لوګر له کرنیزو تولیداتو څخه یې استفاده کړې او بیا هغه پر بزګرانو وېشي.

د یادونې وړ ده، چې د لوګر د والي مرستیالې د دغه ولایت پر ښځو د شنو کوچنیو بڼونو د وېش بهیر پیل کړی دی.

## د لوګر ولسونو پر کابل پوهنتون تروریستي برید وغانده او د پېښې د قربانیانو په یاد یې د قرانکریم ختم وکړ

دلړم ۱۳مه:

په یادو مراسمو کې د دویمي واحدونو مسولینو، دیني علماوو، قومي مشرانو، ځوانانو او یو شمېر نورو مسولینو برخه اخیستې وه. د مراسمو په لومړیو کې دلړم د ۱۲ مې نېټې د تروریستي برید د قربانیانو په یاد د قرانکریم ختم وشو، ګډونوال د لوی الله(ج) له درباره شهیدانو ته د جنت او ټپیانو ته د بېړنۍ روغتیا غوښتونکي شول.

دوی دغه برید د هېواد، اسلامیت او افغانیت د دښمنانو کار وباله او دوی یې د پردیو مزدوران او غلامان یاد کړل.

د یادونې ده، چې دلړم په ۱۲مه د هېواد او خاورې د دښمنانو پر کابل پوهنتون تروریستي برید وکړ، چې زموږ یو شمېر هېوادوال یې شهیدان او ټپیان کړل او له دې سره سم د هېواد جمهور رییس دلړم ۱۳مه په ټول هېواد کې ملي ماتم اعلان کړ.

**لوګر رسنیز مرکز**



## لوګر کې د اقلیمي بدلون نړیواله اونۍ ولمانځل شوه

دلړم۱۱ مه:

د اقلیمي بدلون نړیواله اونۍ د چاپیریال ساتنې اداري لخوا د پوهنې ریاست د غونډو په تالار کې ولمانځل شوه، چې دلوګر والي محمد اجمل شاه پورپه ګډون؛ د یو شمېر ادارو مسوولینو، مشرانو، ځوانانو او ښځو برخه اخیستې وه.



په لومړیو کې د چاپېریال ساتنې رییس عبدالنادر واحدي ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د ولایت په کچه د چاپېریال د وضعیت د څرنګوالي او په یاده برخه کې د ستونزو او لاسته راوړنو پر تړاو اړین معلومات دغونډې ګډونوالو په وړاندې شریک کړل.

لوګر والي محمد اجمل شاه پور د چاپېریال په ساتنه کې؛ پاکوالی د ټولو دنده او مسؤلیت وباله، زیاته یې کړه؛ وروستیو څېړنو ښودلې، چې اوسمهال په نړۍ کې هوا مخ پر ګرمیدو ده او د دې وخت دی، چې ټول په ګډه لاس پکار او د خپل چاپېریال په ساتلو کې پوره هڅې او هاند ترسره کړو.

شاه پور زیاته کړه؛ موږ او ولسونو ته په کار ده، تر څو د ښه او پاک چاپیریال د برابرولو په برخه کې ګډې، ټولیزې او هر اړخیزې هڅې وکړو، تر دې چې د چاپیریال شته وضعیت کې ښه بدلونونه راولو.

دغه راز د اقلیم د بدلون په اړوند چمتو شوی پرزنټېشن د اړوندو مسؤلینو لخوا ګډونوالو ته وړاندې شو چې پکې د ولایت، هېواد او نړۍ په کچه تازه معلومات او څېړنې ځای پر ځای شوې وې.

د غونډې په لړ کې د پوهنتون رییس پوهنمل عبدالناصر ستانکزي هم د اقلیم او چاپېریال پر تړاو ارزښتمنې خبرې وکړې او د چاپیریال پاکوالی یې د ټولو دنده وښودل.

## د لوګر یو تن ښوونکي په ریاضي کې نوي فورمول کشف کړی

دلړم۴ مه:

په لوګر ولایت کې د هلکانو د یوه ښوونځي یو تن ښوونکي په دې توانېدلی، چې د ریاضي یو نوی فورمول کشف کړي.

دغه ښوونکی سید ابراهیم موسوي نومېږي، چې د مرکز اړوند د حضرت عمر فاروق(رض) د هلکانو د لېسې ښوونکی دی.

د لوګر د پوهنې سرپرست رییس نثار احمد سیدي د نوموړي ښوونکي د ستاینې پر مهال وویل، دا د لوګر او ټول هېواد لپاره د ویاړ خبره ده، چې یو ښوونکي د ریاضي نوی فورمول کشفوي.

ده زیاته کړه، چې د نوموړي ښوونکي له لوري کشف شوی فورمول د پوهنې وزارت د ساینس او ټکنالوژۍ مرکز ته د څېړنې په موخه لېږل شوی.

ها خوا د یاد فورمول کشف کوونکی استاد سید ابراهیم موسوي وایي، ده د ریاضي مضمون د مشتق په برخه کې د(n ام) درجې پولینومي تابع (p ام) مشتق لاسته راوړل او د(n ام) حد(p ام) مشتق لاسته راوړل په هغه صورت کې چې (n) لوی له (p) نه وي د( p ام) حد د پیدا کولو لپاره یو نوی فورمول کشف کړی دی.

موسوي زیاته کړه، چې یاد فورمول مې په خپل کوښښ کشف کړی، پر دغه فورمول مې دوه اونۍ کار کړی او له هېڅ کوم کتاب او انټرنېټ څخه مې ګټه نه ده اخیستې. استاد وایي، چې دغه فورمول مې په کابل کې د فلسفي ریاضي د څېړنې مرکز ته ور وړی، چې د دغه مرکز له لوري زما کشف شوی فورمول تایید شوی او ماته یې په دې ویاړ یوه تصدیق پاڼه هم را کړې ده.



استاد سید ابراهیم موسوي په ۱۳۷۱ کال کې د کلنګار په جهادي لېسې کې د ښوونکي په توګه دنده پیل کړې، چې په لوګر کې له تجربه لرونکو او د ریاضي د تکړه ښوونکو له جملې څخه شمېرل کېږي.

## مراسم فاتحه خوانی در لوگر برگزار...

**عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات و فرهنگ لوگر ضمن ابراز تسلیت و غم شریکی با خانواده مطبوعات و تقبیح رویداد های هفته گذشته، می گوید که هر جامع بشری در هر زمان وهر مکان به اطلاعات ومعلومات نیاز دارد ودست آورد های نزدیک به دو دهه اخیر، آزادی بیان است که نباید در گلو خفه شود، آقای تسل خواهان شناسایی عاملان همچون قضایا و مجازات آنان شد و گفت که حمله بر خبرنگاران حمله بر آزادی بیان است.**

**خان ولی احمدزی مسوول کمیته مصئونیت خبرنگاران در لوگر می گوید که یما سیاوش و الیاس داعی خبرنگاران ورزیده کشور همواره در عرصه اطلاع رسانی دقیق وموثق تلاش می کردند، وی گفت حمله بر خبرنگاران قابل توجیه نیست و خواهان هرچه بهتر مصئونیت خبرنگاران شد.**

**محمد اجمل شاه پور والی لوگر خبرنگاران را نماد آزادی بیان عنوان کرد و گفت دربرابر کسانیکه آزادی بیان را در گلو خفه میکند همه باید منسجم گردند.**

**در پایان برنامه باختم قرآن عظیم الشان اتحاف دعا به روح شهدا صورت گرفت.**

## پنجصد جلد کتاب های مختلف به کتابخانه عامه اهداء گردید

پنجصد جلد کتاب های حاوی موضوعات مختلف ومجله ازسوی داکترسید حسین سادات یک شخص علم دوست لوگر، به کتابخانه عامه درحضور داشت عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ اهداء گردید.



داکترسید حسین سادات می گوید که به هدف ترویج فرهنگ مطالعه وغنامندی کتابخانه عامه وروآوری مردم به جای جنگ به فرهنگ مطالعه، کتاب کمک نموده است.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ درسخنانش ضمن اظهار سپاس وقدردانی از آقای سادات خاطرنشان ساخت که همچون اشخاص ونهاد ها میتوانند با اهداء کتاب فرهنگ کتابخوانی را مروج سازند، رییس اطلاعات وفرهنگ ازهمه تاجران و اشخاص فرهنگی خواست که برای غنای کتابخانه عامه توجه بیشترنمایند.

عبدالاحمد فیضی مدیرعمومی کتابخانه های عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگرمی گوید که به اثر سعی و تلاش و راه اندازی کارزار های تبلیغاتی درمراکز تعلیمی، تحصیلی، راه اندازی کمپاین کتاب، روندنهادینه شدن فرهنگ مطالعه و گردهمایی ها، فرهنگ مطالعه در این ولایت افزایش یافته است که روزانه ده ها تن شایقین مطالعه به کتابخانه عامه، مراجعه میکنند که سال گذشته این رقم نسبتاً کم رنگ بود.

مسوولین اطلاعات وفرهنگ می گویند که تا حال غرض نهادینه شدن فرهنگ مطالعه صد ها جلد کتاب به مراکزتعلیمی ونهادهای مختلف ازسوی ریاست اطلاعات وفرهنگ نیز توزیع گردیده است.

این درحالی است که درجریان یکسال چهارهزاروپنجصد جلد کتاب ازسوی اشخاص ونهادهای مختلف به هدف غنامندی کتابخانه وترویج فرهنگ مطالعه به کتاب خانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر اهداء گردیده است.


د امتیاز خاوند: لوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست لوګر Logar

یادونه: لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده.

مسؤل مدیر: شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۹۹۱۳۱۸۳۵

کتونکې ډله: عبدالرحمن «تسل»، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»

خبریال: محمد موسی «عدیل»

فیسبوک پاڼې: www.facebook.com/ دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست

www.facebook.com/ لوګرمیاشتنۍ

ډیزاینر: امیني «ستانکزی»

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.

داړیکې شمیره: ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرښنالیک پته: Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای: آزادی مطبعه